مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۵۹** (از ۱٦ الی ۲۳ سرطان ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

### کنفرانس سعودی و آیندۀ صلح در افغانستان

کنفرانس صلح یا وسیله‌ی فشار جدید؟! ........ ۴
نتائج و دست آوردها ........ ۵
امریکا؛ جانب اهمال شده در کنفرانس ........ ٦

### د ملي یووالي حکومت او له اداري فساد سره د مبارزې وضعیت

اداري فساد؛ د افغان حکومتونو ستره ننګونه ........ ۹
د ملي یووالي حکومت هڅې ........ ۱۰
له اداري فساد سره د مبارزې ګنې اداري ........ ۱۱
د اداري فساد مرکزونه ........ ۱۲

## مقدمه

د افغان حکومت له لوري له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو د پیل په موخه، له تېرې کابو یوې لسیزې راهیسې هڅې روانې دي؛ خو دا هڅې د ملي یووالي حکومت له راتګ سره لا ګړندۍ شوې. افغان ولسمشر اشرف غني له طالبانو سره د سولې په پار پر دغه ډله د سیمې او نړۍ په کچه د سیاسي فشارونو ترڅنګ، د جګړې په میدان کې نظامي فشارونه هم زیات کړل، خو بیا هم د سولې خبرو ته د طالبانو د حاضرېدو لامل نه شول.

د ولسمشر غني د ټګلارې بله مهمه برخه پر طالبانو دیني فشارونه زیاتول وو، چې د اسلامي نړۍ په مرکز سعودي عربستان کې د تېرې اوونۍ غونډه یې وروستۍ هڅه ده. دا چې په دغه کنفرانس کې د افغان قضیې په تړاو کومې خبرې د پام وړ وې او په هېواد کې پر روانې جګړې او د سولې په بهیر به یې اغېزې څه وي؟ هغه پوښتنې دي، چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې یې په اړه شننه لولئ.

د تحلیل به دویمه برخه کې له اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د ولسمشر غني په فرمان، د یوې نوې څارونکې ادارې پر جوړولو او په ټوله کې د ملي یووالي حکومت په دوره کې د اداري فساد او له دغې ښکارندې سره د مبارزې د وضعیت په اړه لولئ. په افغانستان کې له امنیتي او سیاسي بې‌ثباتۍ راوروسته د اداري فساد یوه ستره ننګونه ګڼل کېږي، چې له امله یې افغانستان تل د نړۍ د فاسدو هېوادونو د نوملړ په سر کې وي.

# کنفرانس سعودی و آیندۀ صلح در افغانستان



بتاریخ (۱۰ و ۱۱ ماه جولای ۲۰۱۸م) کنفرانس علمای جهان اسلام در رابطه به جنگ و صلح در افغانستان، زیر چتر سازمان همکاری‌های اسلامی و همکاری حکومت عربستان سعودی، برگزار شد.

در این کنفرانس دو روزۀ بین‌المللی زیر نام "تأمین صلح و ثبات در افغانستان"، به شمول علمای افغانستان بیش از ۱۰۰ عالم دین از ۳۷ کشور جهان حضور یافتند که پس از دو روز بحث روی قضیۀ افغانستان، با نشر قطع‌نامه‌ای گفتند: «دولت افغانستان اسلامی است، مردم آن مسلمان اند و جنگ علیه مسلمانان بر اساس نص قرآن ناجائز است.» در بخش دیگری از این قطع‌نامه، بر مذاکرات بین‌الافغانی میان طالبان و حکومت افغانستان تأکید شده و از آن‌ها خواسته است تا به خاطر ختم جنگ و خونریزی جاری در کشور، باهم بنشینند و صلح کنند. با آنکه امریکا یکی از جهت‌های جنگ افغانستان است، در قطع‌نامۀ این کنفرانس به نقش امریکا در ختم جنگ افغانستان و تأمین صلح در این کشور هیچ‌گونه اشاره‌ای نشده است.

از سوی هم، گروه طالبان با نشر اعلامیه‌ای برگزاری چنین کنفرانس‌ها را طرح و برنامۀ مسؤولین و نظامیان امریکایی خوانده و گفته اند که در این کنفرانس کدام عالم مشهور و پذیرفته شده شرکت نکرده و افرادی که در این کنفرانس حضور داشتند "مامورین رسمی" حکومت بودند.

در این تحلیل روی، پیامد های کنفرانس علمای دینی در عربستان سعودی و اینکه ایالات متحدۀ امریکا چه نقش و مسؤولیتی در ختم جنگ و تأمین صلح در افغانستان دارد، پرداخته شده است.

## کنفرانس صلح یا وسیله‌ی فشار جدید؟!

صلح و گفتگو با طالبان مسئله‌ای است که علاوه بر دولت افغانستان، برخی از نهادهای مستقل داخلی و خارجی نیز از حدود یک دهه به این‌سو برای رسیدن به آن تلاش و فعالیت می‌کنند. در این میان ایجاد شورای عالی صلح، کنفرانس‌های ارومچی و مری در چین و پاکستان، پروسۀ "کنفرانس‌های چهارجانبۀ صلح" در کابل و اسلام‌آباد و کنفرانس‌های "پروسۀ کابل" از جمله تلاش‌های عمدۀ حکومت افغانستان محسوب می‌شود که برای رسیدن به هدف آغاز گفتگوهای صلح با طالبان آنرا انجام داده است؛ اما نتیجۀ ملموسی تاکنون نداشته است.

اعمال فشار بر طالبان از طریق علمای دینی، راهکار جدیدی است که حکومت افغانستان از چندی به این‌سو برای کشیدن طالبان به میز مذاکرات صلح آنرا روی دست گرفته و تلاش دارد تا با ایجاد مخالفت‌های دینی و مذهبی علیه جنگ طالبان در برابر حکومت، مبارزۀ این گروه را از لحاظ دینی به چالش بکشد.

برگزاری کنفرانس مشترک علمای دینی افغانستان، پاکستان و اندونیزیا از جمله مواردی بود که حکومت افغانستان به امید اینکه علمای سه کشور جنگ افغانستان را ناروا اعلام کنند، برای برگزاری آن تلاش‌های زیادی کرد، تا بالآخره به تاریخ ۱۱می سال ۲۰۱۸م در اندونیزیا برگزار شد؛ اما در آن کنفرانس خلاف انتظار حکومت افغانستان در مورد جنگ افغانستان فتوای صادر نشد و اعلامیۀ آن‌ها در مورد نامشروع بودن جنگ افغانستان صراحت کامل نداشت.

حکومت افغانستان حدود سه هفته بعد از کنفرانس اندونیزیا، کنفرانس دیگری را در کابل به تاریخ ۴ جون ۲۰۱۸م برگزار کرد که در آن بیش از ۲۰۰۰ عالم دینی افغان اشتراک ورزیدند و برضد مشروعیت جنگ جاری در افغانستان فتوا صادر کردند، ولی طالبان با صدور اعلامیه‌ای کنفرانس عالمان دینی در کابل را طرح و پروسۀ امریکایی خواند.

به ادامهٔ همین تلاش‌ها، هفتهٔ گذشته در سرزمین حرمین شریفین کنفرانس علمای دینی کشورهای اسلامی در رابطه به جنگ و صلح افغانستان برگزار شد که در آن جنگ جاری در افغانستان با وضاحت بیشر ناروا خوانده شد.

در کل حکومت افغانستان تلاش دارد که با اعمال فشار از طریق علمای دینی بر طالبان، از یک‌سو روحیهٔ جنگجویان این گروه را تضعیف کند و از سوی دیگر می‌خواهد طالبان را با توسل به منطق و زبان دین، به میز مذاکرات صلح با حکومت افغانستان حاضر کند. اما جریانات صلح‌خواه در داخل و عامه‌ی مردم افغانستان که از جنگ به ستوه آمده اند، کنفرانس جده را مانند هر اقدام دیگری که هدف آن برقراری صلح در افغانستان باشد، به دیده‌ی قدر نگریسته و توقع داشتند این نشست به اشتراک طالبان وبه شکل مثمرتری انعقاد یابد.

## نتائج و دست آوردها:

با آنکه کنفرانس علمای دینی در کابل نیز در رابطه به جنگ افغانستان فتوای مشابهی صادر کرده بود؛ اما فتوای کنفرانس بین‌المللی علمای ۳۷ کشور جهان اسلام در شهرهای جده و مکه مکرمه در طول ۱۷ سال جنگ افغانستان، بزرگترین و مهمترین فتوای علمای جهان اسلام برضد جنگ جاری طالبان محسوب می‌شود که مواد مهم آنرا می‌توان در چند نکتهٔ ذیل بیان کرد:

دولت افغانستان یک دولت اسلامی و مردم آن مسلمان اند، کشتن آن‌ها و ریختن خون هر مسلمان حرام است، جنگ جاری افغانستان که در آن همه‌روزه مردم بی‌گناه کشته می‌شوند، مخالف اصول و اساسات دین اسلام است.

قضیهٔ افغانستان باید از راه گفتگوهای مستقیم حل گردد و مذاکرات بین‌الافغانی بهترین راهی است که می‌تواند کشالهٔ کنونی میان حکومت و طالبان را حل و فصل کند.

از حکومت افغانستان و تحریک طالبان می‌خواهیم که آتش‌بس کنند و برای گفتگوهای مستقیم با هم بنشینند.

ما از تلاش‌های علمای افغانستان در رابطه به تأمین صلح قدردانی و حمایت می‌کنیم و نیز از پیشنهادات اخیر صلح رئیس جمهور غنی -که بدون قید و شرط حاضر به گفتگوهای صلح با طالبان است- تأیید می‌کنیم و از

طالبان می‌خواهیم، به این پیشنهاد حکومت افغانستان پاسخ مثبت بدهند، از خونریزی دست بکشند و به میز مذاکرات صلح حاضر شوند.

از تمام کشورها، سازمان‌ها و قشر فکری مسلمانان می‌خواهیم در رابطه به تأمین صلح در افغانستان نقش مثبتی ایفاء نمایند.

در فتوای کنفرانس علمای دینی در عربستان سعودی، چیزی متفاوتی از قطع‌نامهٔ کنفرانس علمای دینی در کابل به نظر نمی‌رسد. چون در کنفرانس کابل نیز دولت افغانستان اسلامی و جنگ جاری حرام خوانده شده بود؛ اما نکتهٔ که نه در کنفرانس علمای دینی در کابل و نه هم در کنفرانس عربستان سعودی به آن اشاره شد، حضور نیروهای خارجی به خصوص ایالات متحده امریکا به عنوان آغازگر این جنگ و نقش آن‌ها در ختم جنگ و تأمین صلح در افغانستان است.

در کنفرانس عربستان سعودی نیز تأکید بر مذاکرات بین‌الافغانی میان حکومت و طالبان شده است، در حالیکه طالبان هر بار گفتگوهای صلح با حکومت افغانستان را رد نموده و آنرا "بی‌صلاحیت" عنوان کرده‌اند. بنابراین، در همچو یک بن‌بست نیاز به پیشنهاد راه‌حل‌هایی در رابطه به موانع اصلی در برابر صلح افغانستان دیده می‌شد.

## امریکا؛ جانب اهمال شده در کنفرانس:

ایالات متحده امریکا، ظاهراً به هدف مبارزه با تروریزم، از بین بردن شبکه القاعده و ایجاد حکومت جدید بر افغانستان حمله کرد و رژیم طالبان را سرنگون ساخت؛ اما در سناریوی اصلی اهداف مهم دیگر نیز وجود داشت که به خاطر رسیدن به آن بر گرم ساختن میدان جنگ افغانستان بعد از سال ۲۰۰۵م تمرکز دوباره صورت گرفت.

باآنکه تا سال ۲۰۰۵م در سراسر کشور امنیت نسبی برقرار بود؛ اما نیروهای امریکایی به هدف ناامنی و آغاز دوبارهٔ جنگ به بازرسی شبانهٔ خانه‌ها، بازداشت افراد سابق طالبان، انجام اعمال ضد بشری، کشتار غیر نظامیان و غیره پرداختند که به عنوان یکی از دلائل مهم آغاز دوبارهٔ فعالیت جنگی طالبان نیز مطرح است.

در سال‌های ۲۰۰۹م الی ۲۰۱۲م تعداد نظامیان امریکا به بیش از صد هزار سرباز افزایش یافت و میدان جنگ افغانستان به گرم‌ترین حالت خود رسید؛ اما در سال ۲۰۱۴م در اوج جنگ و ناامنی در افغانستان، نیروهای خارجی تحت نام برنامۀ سپردن مسؤولیت‌های امنیتی، میدان جنگ افغانستان را به نیروهای افغان سپرد، تعداد شان به حدود ۱۰ هزار سرباز کاهش یافت و بیشتر نقش تماشاچی را اختیار نمودند.

با روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی و امضا نمودن پیمان امنیتی با امریکا سربازان امریکایی عملیات شبانه خویش را دوباره آغاز کردند و دولتمردان افغانستان نیز از کشتارهای عمدی نیروهای امریکایی چشم‌پوشی نمودند. پس از به قدرت رسیدن دونالد ترمپ در امریکا و اعلام استراتیژی نظامی جدید این کشور که در آن بر افزایش سربازان خارجی و فشارهای نظامی علیه طالبان تأکید شده بود، ناامیدی در رابطه به پایان دادن به جنگ افغانستان بیشتر شد، چون حضور نیروهای خارجی یکی از دلایل مهم جنگ طالبان در افغانستان است و این گروه تأکید دارند که تا حضور نیروهای خارجی دست از جنگ نخواهند کشید.

با این همه، چنانچه نیروهای خارجی، حکومت افغانستان و طالبان از جوانب اصلی جنگ افغانستان شمرده می‌شوند، قضیۀ صلح و پایان دادن به این جنگ نیز به آن‌ها بر می‌گردد. بنابراین، تا زمانیکه طالبان حکومت افغانستان را به عنوان یکی از جهت‌های اصلی در قضیۀ صلح و جنگ قبول نکنند و ایالات متحده نیز از نقش میانجی به نقش یک جهت اصلی این معضل وارد گفتگو با طالبان نشود، این تلاش‌ها نیز نتیجه‌ی مطلوبی در پی نخواهد داشت. آنچه در شرائط کنونی درکش برای تمام اطراف ضروری است اینکه مردم افغانستان دیگر تحمل ادامه‌ی جنگ را ندارند و مشتاقانه منتظر آنند تا شاهد صلح و آشتی عمومی در کشور خویش باشند، به همین خاطر هم از تلاشهای صلح از هر طرفی که باشد، استقبال می نمایند. پایان

# د ملي یووالي حکومت او له اداري فساد سره د مبارزې وضعیت



ولسمشر اشرف غني د یوه فرمان له لارې، یوه پلټونکې یا د تفتیش نوې اداره رامنځته کړې، چې موخه یې له اداري فساد سره لا ډېره اغېزناکه مبارزه او د جګپوړو حکومتي چارواکو پر فعالیتونو څارنه بلل شوې ده. دغه پلټونکې اداره داسې مهال رامنځته کېږي، چې د تفتیش د عالي ادارې په ګډون د اداري فساد پرضد ګڼې اداري فعالیت لري او له همدې کبله د حکومت دا اقدام له بېلابېلو غبرګونو سره هم مل و.

د اداري فساد پرضد وروستیو هڅو کې، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د پخواني وزیر عبدالرزاق وحیدي د محاکمې علني غونډه جوړه شوه، چې په اختلاس او اداري فساد تورن دی او دا لومړی ځل دی، چې د وزیر په کچه جګپوړی چارواکی د اداري فساد په تور محاکمه کېږي.

د اداري فساد پرضد د ملي یووالي حکومت دا هڅې داسې مهال دي، چې د ولسمشرۍ ماڼۍ یوه ویاند شاه حسین مرتضوي د سې‌شنبې په ورځ (د جولای ۱۰مه) په یوه خبري کنفرانس کې ومنله، چې دا مهال هر کال ۷۰۰ ملیون ډالره یوازې د هېواد په ګمرکونو کې تس نس کېږي او حکومت هڅه کوي، چې په ګمرکونو کې د فساد په له منځه وړلو سره کورني عواید زیات کړي.

د اداري فساد پرضد د ملي يووالي حکومت له درې کلنې مبارزې سره سره، لا هم اداري فساد د افغانستان لپاره ستره ننګونه او د نړۍ په کچه د فاسدو هېوادونو په کتار کې دی. یوناما په خپل وروستي راپور کې، چې د ۲۰۱۷ کال له جنوري د ۲۰۱۸ کال تر اپرېل پورې یې په افغانستان کې د اداري فساد پرضد هڅې ارزولې دي، په افغانستان کې اداري فساد ستر، غیرانساني او بې‌شرمانه بللی دی.

دا چې د اداري فساد پرضد مبارزه کې د ملي یووالي حکومت تګلاره او درې کلنه مبارزه څه ډول وه؟ په دې برخه کې د حکومت هلو ځلو ولې پام‌وړ پایله نه لرله؟ او په افغانستان کې د اداري فساد جرړې چېرته دي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته یې په اړه شننه لولئ.

## اداري فساد؛ د افغان حکومتونو ستره ننګونه

افغانستان یوازېنی هېواد نه دی، چې د پراخ اداري فساد له ستونزې سره مخ دی، بلکې ډېری معاصر دولتونه له دغې ننګوونکې ستونزې سره مخ دي. د حامد کرزي په ۱۳ کلنه واکمنۍ کې اداري فساد د افغان حکومت هغه ستره ننګونه وه، چې له کبله یې نه یوازې دا چې د افغانانو بشري حقونه ځپل شوي، بلکې په نړیواله کچه د حکومت لپاره د بدنامۍ تور داغ هم و.

افغانستان ته د بهرنیو ځواکونو او پرېمانه پیسو له راتګ سره، اداري فساد هم د هېواد بېلابېلو سکتورونو ته خپور او داسې کچې ته ورسېد، چې د بېلابېلو سروې‌ګانو او نظرپوښتنو له مخې په تېره ۱۷ کلنه دوره کې، اداري فساد د افغانانو لپاره یوه ستره ننګونه بلل شوې ده. په دغو سروې‌ګانو کې د ایشیا فاونډېشن، د ملګرو ملتونو د نشه‌يي توکو او جرمونو اداري او داسې نورو کورنیو او نړیوالو ادارو د بېلابېلو کلونو سروې‌ګانې یادولی شو.

د حامد کرزي په دوره کې که څه هم د اداري فساد پرضد ځینې ګامونه واخیستل شول او یو شمېر اداري او قوانین جوړ شول؛ خو بیا هم د شفافیت د نړیوالې ادارې د کلنیو راپورونو له مخې، افغانستان څو کاله د نړۍ په کچه د ترټولو فاسدو هېوادونو په کتار کې و او په دې ټوله دوره کې افغانان له پراخ اداري فساد سره مخ وو. د دغې اداري د سروې‌ګانو له مخې، له ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې د اداری فساد کچه زیاته شوه؛ خو له ۲۰۰۹ کال څخه تر ۲۰۱۱ کال پورې بیا د اداری فساد کچه راکمه شوه. په ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو کې یو ځل بیا خپل اوج ته ورسېده. په دې توګه دا ستونزه د ملي یووالي حکومت ته په میراث پاتې شوه.

## د ملي یووالي حکومت هڅې

که څه هم ولسمشر اشرف غني په لومړیو کې د اداري فساد پرضد توند دریځ خپل کړ او له واک ته رسېدو سره سم یې د کابل‌بانک قضیه پرانیسته؛ خو بیا هم د ملي یووالي حکومت تګلاره او تېره دريځ‌نیم کلنه مبارزه بریالۍ نه وه او د حکومتي چارواکو ترمنځ د همغږیو نشتون او د جګ‌پوړو چارواکو له‌خوا په دې لاره کې خنډونو جوړولو په څېر ستونزو، له اداري فساد سره د حکومت پر مبارزې سیوری غوړولی و.

په ۲۰۱۴ کال کې د کابل‌بانک قضیې بیا پرانیستل، په اداري فساد یو شمېر تورنو جګ‌پوړو چارواکو ممنوع الخروج اعلانول او لویې څارنوالۍ ته معرفي کول او د ملي تدارکاتو کمیسیون جوړول هغه هڅې وې، چې له کبله یې د شفافیت نړیوال سازمان په درجه‌بندۍ کې د افغانستان ځای له دویم څخه څلورم ته راټیټ شو.

په ۲۰۱۵ کال کې بیا که څه هم د کابل‌بانک له پورورو یوه اندازه پیسې هم ترلاسه شوې؛ خو په بل اړخ کې د همدغې قضیې د یوه مهم تورن خلیل‌الله فیروزي له زندانه د خوشي کېدو د قضیې په څېر ناهمغږیو او پراخو داخلي اختلافاتو له کبله بېرته افغانستان دویم هېواد شو.

په ۲۰۱٦ کال کې افغانستان د نړۍ د درېیو فاسدو هېوادونو له کتاره ووت او اتم مقام یې خپل کړ، چې تر ټولو مهم لاملونه یې په دغه کال کې له اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز پرانیستل، د حکومتي چارواکو د شتمنیو ثبت، د ټولو ولایتونو د قاضیانو په ګډون د ٦۰۰ قاضیانو،۲۰ څارنوالو او د ګمرکونو د ۲۵ سلنه کارمندانو ګوښه کول، د لوړپوړو چارواکو له ۱۰۰ څخه د زیاتو پاسپورتونو ضبطول، په ۱۲۵۰ قراردادونو کې د ۲۲۰ میلیون ډالرو اختلاس مخنیوی او ځینې نور ګامونه وو.

په ۲۰۱۷ کال کې بیا له اداري فساد سره مبارزه یو ځل بیا د سیاسي اختلافاتو او امنیتي بې‌ثباتۍ له کبله اغېزمنه شوه؛ ځکه دا کال د افغانستان لپاره له ستونزو او ننګونو ډک کال و. همدا لامل و، چې افغانستان د ۲۰۱۴ کال په څېر یو ځل بیا څلورم فاسد هېواد ته لوړ شو.

## له اداري فساد سره د مبارزې ګڼې اداري

که د ملي يووالي حکومت فساد ضد هڅو ته ځير شو، نو جوته به شي چې د دغه حکومت تګلاره تر ډېره د اداري فساد ضد ادارې، ستراتيژۍ او قوانين جوړول او ترڅنګ يې يو شمېر عملي ګامونه اوچتول وو.

دا مهال تر ۱۰ ډېرې ادارې د اداري فساد پرضد مبارزه کې فعاليت لري، چې له دې جملې څخه څلور يې د ملي يووالي حکومت په دوره کې جوړې شوې دي. لويه څارنوالي، د ملي شورا دواړې جرګې، له اداري فساد سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز، د تفتيش عالي اداره، د قانون حاکميت او له اداري فساد سره د مبارزې عالي شورا، د ملي تدارکاتو ځانګړې کميسيون، له اداري فساد سره د مبارزې عالي اداره چې په دې وروستيو کې له لويې څارنوالۍ سره مدغم شوه او په اصلاحاتو او ښې حکومتولۍ کې د ولسمشر د ځانګړې استازي اداره، چې دا مهال له منځه تللې ده.

په وروستي اقدام کې هم د تفتيش نوې اداره رامنځته شوه، چې د ولسمشر د يوه ۹ مادهيي فرمان له مخې به د دغې ادارې د فعاليت ساحه، په ولسمشرۍ او اجرائيه رياست پورې اړوندو اداري واحدونو، د خپلواکو بودجوي ادارو رئيسانو او د حکومت نورو جګپوړو چارواکو د فعاليتونو په اړه د شکايتونو پلټنه وي؛ خو خپله د ولسمشر د فعاليتونو په اړه پلټنه يې په کاري ساحه کې شامله نه ده. د دغې ادارې مشر به هم د څلور کلنې دورې لپاره د ولسمشر لهخوا ټاکل کېږي او يوازې ولسمشر ته به ځواب ويونکی وي.

د لندن په کنفرانس (۲۰۱۴) کې د ولسمشر يوه ژمنه هم د اداري فساد پرضد يو خپلواک ماموريت رامنځته کول وو، چې محدود وخت او د پلي کولو واک به لري. که د ولسمشر لهخوا د وروستۍ اداري رامنځته کولو موخه هماغه اداره وي، ښايي په دې برخه کې اغېزناکه ثابته شي؛ خو دا مهال د ولسمشر سياسي مخالفين داسې انګېري، چې له دې اداري شايد د سياسي حربې په توګه کار واخيستل شي.

د اداري فساد پرضد د ګڼو ادارو فعاليت يوه هغه ستونزه وه، چې له دغې ښکارندې سره پر مبارزه يې منفي سيورې غوړولی و. د دغو ادارو زياتوالی د دې لامل شو، چې له يوې خوا د دغو ادارو پر ځواکمنتيا او وړتيا لوړولو کار ونه شي او له بلې خوا د اداري فساد پرضد مبارزې ناکامي د يوه او بل پر اوږو ورواچوي.

## د اداري فساد مرکزونه

د اداري فساد پر ضد د قوانینو جوړولو او ګڼ شمېر ادارو له فعالیت سره سره، نه یوازې دا چې په هېواد کې د اداري فساد کچه راټیټه شوې نه ده، بلکې ورځ تر بلې لوړېږي هم، چې یو لامل یې خپله د ملي یووالي حکومت ایتلافي جوړښت دی او له کبله یې تېر کال اجرائیه رئیس هم د ولسمشر لهخوا د فاسدو چارواکو په ملاتړ تورن شو.

له یوې خوا هغه ادارې چې د اداري فساد کچه پکې تر ټولو زیاته ده او له بلې خوا د اداري فساد پرضد ادارو کې د فساد شتون، د ملي یووالي حکومت مبارزه د ناکامۍ په لور بېولې ده. په دغو ادارو کې لاندې اداري یادولی شو:

- **عدلي او قضايي ارګانونه:** د اداري فساد په تړاو کورنیو او بهرنیو ادارو له سروې‌ګانو او څېړنو ښکاري، چې محکمې او څارنوالي د افغانستان د خلکو له نظره تر ټولو فاسدې اداري دي. دې چارې له اداري فساد سره پر مبارزه هم خورا منفي سیوری غوړولی دی.
- **امنیتي سکتور:** په امنیتي ادارو کې د کورنیو چارو وزارت د ملي یووالي حکومت په دوره کې تر ټولو فاسد ارګان و او خپله ولسمشر اشرف غني د اداري فساد زړه بللی دی. په تېرو کلونو کې هم، د بېلګې په ډول په ۲۰۱۰ کال کې د افغانستان د روڼتیا څار سازمان د سروې له مخې، تر ټولو ډېره بې‌باوري پر امنیتي سکتور وه او ډېرو خلکو پولیسو ته بډې ورکړې وې.
- **کانونه:** د افغانستان د روڼتیا څار اداري د ۲۰۱۵ کال په ډسمبر کې د (هیلو لوټماران) په نوم یو راپور خپور کړ، چې په دغه سکتور کې د پراخ اداري فساد ښودنه کوي. سیګار هم د کانونو په اړه خپل لومړنی راپور د ۲۰۱۵ کال په اپرېل کې او دویم یې د ۲۰۱٦ کال په جنورۍ کې خپور کړ او هغه پروژې یې پکې ارزولې چې د اداري فساد له کبله موخې ته نه دي رسېدلې. تر ټولو مهم لاملونه یې مافیا او زورواکي، کمه څارنه او ناسم مدیریت بلل کېږي.
- **ګمرکونه:** د هېواد ګمرکونه د اداري فساد په هغو مرکزونو بدل شوي، چې له کبله یې په ګمرکونو کې عادي دندې په لوړو بیو پلورل کېږي او هر کال سلګونه ملیونه ډالر پکې غلا کېږي.

- **ملي شورا:** ملي شورا د حکومت د کارونو د څارنې دنده لري؛ خو دغه ارگان نه یوازې له اداري فساد سره مبارزه کې مرسته نه ده کړې، بلکې په زیاتوالي کې یې هم رول لوبولی دی. یوناما په خپل وروستي راپور کې، چې کابو دوې میاشتې وړاندې (مې ۲۰۱۸) خپور شو، د افغانستان پر ملي شورا کلکه نیوکه کړې او ملي شورا یې د اداري فساد د ستونزې یوه برخه بللې ده. تر دې مخکې هم څو ځله په ملي شورا کې د اداري فساد له قضیو پرده پورته شوې ده.

د دې ټولو ترڅنګ، په افغانستان کې مېشت بهرني ځواکونه هم په لوړه کچه په اداري فساد کې ښکېل پاتې شوي او لا هم د دې ننګونې په پراختیا کې رول لري، چې پر وړاندې یې د افغان حکومت کمزوری دریځ هم د اداري فساد پرضد هڅو کې، د ناکامۍ لامل شوی. په دې اړه د سیګار مشر جان سپکو څو ځله منلې، چې په اداري فساد کې امریکایان هم ښکېل دي.

پای

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق ارشد:** حکمت الله ځلاند (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com